


حاشر او ورېمه سحر وختي سکول ته روان وو- دوي چې سړک ته ورسېدل نو څهٔ ګوري چې نن د نور کله نه زيات ګاډي ولاړ وو- د ټرېفک پولېس او ډېر خلق راغونډ وو- ورېمه وارخطا شوه- حاشر ته ئې ووئيل، روره! دا نن څهٔ چل دے؟ زهٔ خو ويرېږم، راځه چې کورته واپس لاړ شو-




دغه وخت د دوي مس حوریال هم راورسېده- هغې وې، اسلام علیکم بچو! تاسو څنګه یئ؟ دواړو ورته ووئیل وعلیکم السلام مس جي! مونږ ښهٔ یو- مس دواړه د لاسه ونیول او د سړک نه ئې پورې وېستل- وړمې د مس نه تپوس وکړو چې مس دا څهٔ چل شوے ؤ چې دومره ډېر ګاډي او اېمبولېنس ولاړ ؤ-



مس ورته ووئیل! یو هلک په موټر سائیکل ډېر تېز روان ؤ- د ټرېفک په اشاره و نۀ درېدو نو د مخې نه راتلونکي موټر سره وجنګېدو- ورږمې ووئیل، وائي خدایه! هلک بچ دے کۀ نه؟



مس ووئیل! چې کله سړک نه اوړئ نو
زیبرا کراسنګ باندې تګ کوئ- اول ښي
او بیا ګس اړخ ته ګورئ- چې ګاډي ولاړ
وي نو هله د سړک بل اړخ ته اوړئ-



وړمې تپوس وکړو، مس دا خو د پېدل
خلقو د پاره ضروري ده- دا کوم خلق چې
ګاډي کښې وي نو هغوي له څۀ پکار
دي چې جنګېدلو نه بچ شي-



مس ووئيل، ډرائيور له پکار دي چې
ډېر تېز ګاډي نۀ چلوي- په خپل لاس دې
ځي- د ټرېفک په سره باتۍ دې ودرېږي
او په شنه دې روانېږي- بې ضرورته دې
هارن نۀ وهي-



حاشر ووئیل، مس چې زۀ لوے شم او
ګاډے چلوم، نو هم دا خبرې به یادې
ساتم او عمل به پرې کوم- مس حوریال
ووئیل، شاباش بچو! دا ښه خبره ده- یو
خوا په قانون عمل دے، بل خوا د خپل
ځان حفاظت دے-

# بګ بکس

## د اول جماعت د پاره

پاکستان ريډنګ پراجېکټ (USAID-funded Pakistan Reading Project) پېنځۀ کلن پروګرام دے چې ، د بين الاقوامي ترقۍ د پاره امريکائي اداره (USAID) په مدد سره چليږي- ددې پروګرام مقصد په پاکستان کښې د صوبائي او علاقائي تعليمي محکمو په تعاون سره طالبعلمانو کښې د لوستلو مهارتونه ښۀ کول دے-دې پراجېکټ په 2013ء کښې د اردو او سندهي لوستل د زده کړې مواد جوړول شروع کړي وو- تقريباً پېنځلس زره استاذانو د اول جماعت ماشومانو ته ددې موادو ښودنه وکړه- استاذانو ته د تربيت ورکولو په وخت د ښودنې په نوؤ تجربو يا د موادو په حواله چې کومې ستونزې مخې ته راتلې نو پي- آر- پي د هغې ډېر په غور سره تجزيه کوله - دې سره سره پي -ار- پي د صوبائي او علاقائي تکنيکي ټولګي د غبرګاوي (feedback) او د پراجېکټ په مينځني دور کښې د هغو رپورټونو تجزيه هم وکړه، کوم چې د طالبعلمانو د لوستلو مهارتونو په حواله تيار کړي شوي وو- ددې ټولو نتيجو په بنياد ، پي -ار- پي د پښتو د لوست د ښودنې مواد هم تيار کړو. دا مواد به په شل سکولونو کښې استعمالېږي-

بګ بکس هم ددې ښودنې د موادو يو اهمه برخه ده- چې د اول جماعت د پاره ليکلې شوي دي-

استاذان به روزانه د دې کتاب په اوچت اواز د لوستلو مشق کوي- يو بک بګ به په يوه هفته کښې لوستلے شي- د هر بګ بک په شاتنې مخ د ماشومانو د لوست او تفهيم مهارتونو د وډې د پاره سوالونه او سرګرمۍ ورکړې شوي دي- په اوچت آواز د لوستلو په وخت مختلف اصول په نظر کښې ساتلي شوي دي مثلاً د مخصوصو موضوعاتو انتخاب، د ماشومانو ذهني سطح، ساده او مناسب ټکي او د ماشومانو دلچسپۍ د پاره واضحه تصويري خاکې وړاندې کول وغېره-

اميد لرو چې ددې محنت او کوشش په نتيجه کښې استاذان د ماشومانو د لوستلو مهارتونه مثلاً صوتي اګهي، علم الاصوات، دالفاظو ذخېرې ،د لوستلو رواني او سوچ کولو ته عملي جامه واغوندوي- خصوصاً دا بګ بک به د سکول د لائبرېرۍ برخه وي چې راتلونکي ماشومان هم ددې نه فائدې واخلي او پښتو لوستلو کښې د دلچسپۍ دا سلسله روانه په روانه پاتې شي-

مونږ دا اميد کوو چې د پاکستان ريډنګ پراجېکټ دا کوشش په پرائمري سکولونو کښې د ماشومانو د لوست معيار ښۀ کولو کښې مددګار ثابت شي.

پاکستان ريډنګ پراجېکټ د زده کړې دا مواد تيار کړے دے:

- تي ائي جي ماډيولز
- ويډيوز
- بګ بکس
- سبقي منصوبې
- ورک بکس
- فليش کارډونه
- د ارکانو/ هجو چارټونه
- د زبر، زېر، پېښ چارټونه


























## وړومبۍ ورځ (خبرې اترې، پېشن ګوئي او سابقه معلومات)

### د لوستلو نه وړاندې

» ماشومانو ته سرپاڼه وښایئ او تپوس وکړئ۔
» تاسو ته په دې تصویر کښې څۀ څۀ ښکاري؟
» دا څۀ شوي دي؟

### د لوستلو دوران کښې

» په صفحه 1 تصویر وښایئ او تپوس وکړئ، ماشومان چرته روان دي؟
» په صفحه 4 تصویر وښایئ او تپوس وکړئ، دا خلق څۀ کوي؟

### د لوستلو نه پس

» د دې قیصې د کردارونو نومونه وښایئ ؟
» ماشومانو نه تپوس وکړئ کۀ چرې موټرسائېکل تاسو چلولو نه څۀ به مو کول؟

## دوېمه ورځ (د ارکانو مشق)

### د لوستلو نه وړاندې

» نن تاسو د کومو حروفو/هجو اوازونه زده کړل؟ مطلوبه جواب: ح، ږ
» نن به مونږ د هغه اوازونو نه جوړېدونکي ټکي هم لولو۔ تاسو د /ح/، /ږ/ اوازونو والا ټکي ښودلے شئ؟

### د لوستلو دوران کښې

» په وړومبي مخ جمله "حاشر او وږمه سحر وختي سکول ته روان وو" ولولئ او تپوس وکړئ چې په دې جمله کښې په کومو ټکو کښې د /ح/، /ږ/ اوازو راځي۔ مطلوبه جواب: حاشر"، سحر، وږمه"۔
» د لاسو نو پړقولو سره په ماشومانو د ټکو هجې بیلې کړئ۔ حاشر. / حا/ ،/شر/ وږمه۔/وږ/، /مه/
» په دې کښې څومره هجې دي؟ مطلوبه جواب: دوه

## درېمه ورځ (ذخیره الفاظ، مورنۍ ژبه/د ماحول ژبه)

### د لوستلو نه وړاندې

» د سرپاڼې په تصویر کښې "موټرسائېکل" ته اشاره وکړئ او تپوس وکړئ:
» ستاسو په ژبه کښې "موټرسائېکل" ته څۀ وائي؟

### د لوستلو دوران کښې

» په وړومبۍ صفحه د "د ایمبولېنس" تصویر وښایئ او تپوس وکړئ:
» تاسو "ایمبولنس" ته څۀ وائي؟
» په صفحه 3 جمله "وائي خدایه! هلک بچ دے کۀ نه؟ د تاثراتو او د لب ولهجې د ښکته پورته والي سره ادا کړئ۔ او ماشومان نه د هغوي په ژبه کښې دا جمله واوروئ۔
» په صفحه 5 زیبرا کراسنګ وښایئ او تپوس وکړئ، تاسو دے ته څه وایئ؟

## څلورمه ورځ (د چهپايې تصورات)

### د لوستلو نه وړاندې

» ماشومانو ته ووایئ چې اوس به مونږ قیصۍ لوستل شروع کوو۔ ماشومانو ته د کتاب مخه او شا ، د سرپاڼې، د قیصۍ نوم، لیکوالو ، د تصویرونو جوړونکیو نومونه په ګوته کړئ۔

### د لوستلو دوران کښې

» د کتاب صفحه 1 راواړوئ او تپوس وکړئ چې قیصۍ د کوم اړخ نه شروع کړو؟
» تاسو ته د صفحه 1 په تصویرکښې څۀ څۀ ښکاري؟

### د لوستلو نه پس

» په صفحه 6 دمه واخلئ او تپوس وکړئ، ددې صفحې نمبر څۀ دے؟
» تپوس وکړئ چې د صفحې په وړومبي ټکي باندې ګوته کېږدئ او وښایئ۔

## پینځمه ورځ (ذخیره الفاظ، محاورې)

### د لوستلو دوران کښې

» په صفحه 1 جمله "وږمه وار خطا شوه" ولولئ او د "وار خطا" مطلب په جمله کښې واضحه کړئ لکه، ما چې ناڅاپه سپے ولیدو نو وار خطا شوم۔ په ماشومانو "وار خطا" باندې جملې جوړې کړئ۔
» په صفحه 3 جمله" د ټرېفک په اشاره ونۀ درېدو" کښې د "ټرېفک اشاره" په مطلب ماشومان پوهه کړئ۔ مثلاً مونږ چې سکول ته ځو نو د ټرېفک په اشارو عمل کوؤ۔
» په صفحه 5 جمله "په زیبرا کراسنګ باندې تګ کوئ" ماشومانو ته د"زیبرا کراسنګ" وضاحت وکړئ۔ لکه: زۀ همېشه د سړک پورې وتو کښې د زیبرا کراسنګ استعمال کوم۔ اوس په ماشومانو وار په وار جملې جوړې کړئ۔

## شپږمه ورځ (خبرې اترې، ذاتي ژوند سره تعلق)

### د لوستلو نه وړاندې

» دا قیصۍ د څۀ په حقله ده؟
» په دې قیصۍ کښې کوم کوم کردارونه دي؟

### د لوستلو دوران کښې

» وږمې حاشر ته ولې ووئیل! راځه چې کورته واپس لاړ شو؟
» کۀ هلک په سره اشاره ودرېدلے ؤ نو بیا به څۀ وو؟

### د لوستلو نه پس

» تاسو چې په سړک اوړئ نود کومو خبروخیال ساتئ؟

www.pakreading.org

This publication is made possible by the support of the American people through the United States Agency for International Development (USAID). It is produced by the USAID-funded Pakistan Reading Project in collaboration with the provincial/regional government. The contents are the sole responsibility of the project and do not necessarily reflect the views of USAID or the United States Government.

د دې موادو خپرونه د امریکائي خلقو په مرسته د امریکې بین الاقوامي ترقي اداري په لاس ممکن شوې ده۔ دا مواد یو ایس اېډ۔ پاکستان ریډنګ پراجېکټ د صوبائي/علاقائي حکومتونو په مرسته او شراکت سره تیار کړي دي۔ ددې موادو ټوله ذمه واري د پاکستان ریډنګ پراجېکټ ده۔ او دا ضروري نۀ ده چې دا د یو ایس اېډ یا د امریکائي حکومت د نظریې عکاسي کوي۔